Kompetansesenteret
Tannhelse Midt

# د ريښې درملنه

غاښ له مينا، عاج او پلپ (عصب) څخه جوړ شوی دی. که چېرته په غاښونو کې التهاب موجود وي، نو د غاښونو ډاکتر اړ دی چې د ريښې درملنه وکړي تر څو غاښ خوندي کړي.

## د غاښ ريښه کله درملنې ته اړتيا لري؟

کله چې د غاښ عصب خراب شي، التهابي يا عفوني شي، نو اړينه ده چې د ريښې د کانال درملنه وشي تر څو غاښ خوندي شي. د ريښې د کانال ډېری درملنې د غاښونو د هغو کنډوليو (سوريو) له امله اړينې وي چې عصب ته رسيدلي وي. بيا باکتريا کولای شي عصب ته داخل شي او د تحريک لامل شي. دا کولای شي د عصب د التهاب يا عفونت لامل شي. که چېرته د التهاب درملنه ونشي، نو کېدای شي چې د غاښ د ريښې په څنګ کې د ژامې هډوکی عفوني شي. د غاښ د ريښې په څنګ کې د ژامې په هډوکي کې دغه ډول التهاب کېدای شي له يوې څه مودې وروسته په ايکسرې کې د يوه تياره سيوري په څېر ښکاره شي، ځکه چې د ژامې هډوکی په حل کېدو پيل کوي. دغه التهاب کېدای شي چې د وخت په تېرېدو سره د غاښ عفونت يا سيست لامل شي. نور دليلونه چې له مخې يې د ريښې کانال درملنې ته اړتيا ده عبارت دي له: د غاښ ضربه او د غاښ يا د ريښې ماتېدل. د غاښ د ريښې د درملنې موخه دا ده چې د عصبي نس او باکتريا په لرې کولو سره غاښ خوندي کړي.

## درملنه

د غاښونو ډاکتر به له نورې خولې څخه د غاښ په جلا کولو سره درملنه پيل کړي. دا پر نورو غاښونو د يوه ډېم په اچولو سره ترسره کېږي. د غاښونو ډاکتر غواړي چې د هغوی د کار پر مهال دا د امکان تر کچې ډېر پاک وي او د غاښونو ډېم د درملنې په جريان کې غاښ ته د لاړ او باکتريا له ننوتلو څخه مخنيوی کوي. د غاښونو ډېم همدارنګه خولې ته د وسيلو او چمتو شويو توکو له ننوتلو څخه هم د درملنې په جريان کې مخنيوی کوي. بيا له دوام ورکولو څخه د مخه د غاښونو ډېم په مېکروب ضد توکو مينځل کېږي. د غاښونو منځ د سوديم هايپرکلورايد په وسيله مينځل کېږي چې بوی يې تر يو بريده د کلورين په څېر دی، بوی يې داسې وي لکه د لامبو د حوضونو په څېر. د غاښونو ډېم د درملنې يوه خورا مهمه برخه ده. کله چې د غاښونو ډاکتر د غاښونو ډېم ځای پر ځای کړ او د غاښ عصب يې را خلاص کړ، نو د ريښې د کانالونو پاکول پيلېږي، چې په دې کې د غاښ د ټولو عصبي انساجو لرې کول شامل دي. پاکول د ځانګړو وسيلو په مرسته ترسره کېږي. کله چې د غاښونو ډاکتر د غاښ پاکول پای ته ورسوي، د غاښ ريښې ضد عفوني کېږي او د ريښې د ډکولو په موادو يا په موقتي موادو ډکېږي. تاسو ځينې وخت اړتيا لرئ چې د غاښونو کلينيک ته څو ځلې مراجعه وکړئ تر څو د غاښ د ريښې درملنه مو بشپړه شي. ډېری ناروغان په دې باور دي چې د غاښونو ډاکتر التهاب "لرې کوي". د غاښونو ډاکتر غاښونه پاکوي او د عفونت لامل لرې کوي. د دې کار په ترسره کولو سره بدن ته بهتر وضعيتونه ورکول کېږي تر څو وکولای شي چې التهابونو ته په خپله پام وکړي. په ډېری قضيو کې درملنه ښه پر مخ ځي مګر ځينې فکتورونه شته چې کېدای شي درملنه ټکنې کړي يا حتی د درملنې د نابرياليتوب لامل شي. په هغو مواردو کې چې له درملنې سره د پام وړ پايله نه ترلاسه کېږي، کېدای شي چې يوې کوچنۍ جراحي ته اړتيا وي تر څو پاتې التهابونه لرې کړای شي.

## د ريښې له درملنې څخه وروسته

د ريښې له درملنې څخه وروسته کېدای شي چې تاسو ملايم او تېريدونکی درد د څو ورځو لپاره احساس کړئ يا به په غاښ کې يو څه ځريکې احساس کړئ ـ دا به تاسو ته يو څه "متفاوت" احساس درکړي. دغه نښې نښانې معمولا له منځه ځي، مګر که چېرته دغه درد پاتې شو يا په تدريج سره زيات شو، نو بايد د خپل غاښونو له ډاکتر سره اړيکه ونيسئ. کله چې د غاښ ريښه ډکه شوه، د غاښونو ډاکتر بايد د غاښونو د ډکولو معمولي مواد د هغه د پاسه کېږدي. که چېرته غاښ په شديده توګه کمزوری شو، نو پر غاښ د پاسه د يوه تاج اېښودل به تر ټولو مناسب غوراوی وي. دا په دې معنا ده چې ټول په ګډه معالجه کول کېدای شي نسبتاً ګرانه وي.

## وروستۍ پايله

د غاښ د ريښې درملنه ډېری وخت پېچلې وي او وروستۍ پايله په لويه کچه په دې پورې اړه لري چې د غاښ ريښه په طبيعي توګه څه ډول جوړه شوې ده. تر هغې چې يوه موده نه وي تېره شوې، د ريښې د درملنې وروستۍ پايله نشي تعينېدای. معمولاً د غاښونو ډاکتر نږدې يو کال د درملنې تعقيبي کتنه ترسره کوي. تاسو به بيا پوه شئ چې ايا پايله په بشپړه توګه قانع کوونکې ده او که نه، يا دا چې ايا تاسو بل

تعقیب یا نورې درملنې ته اړتیا لرئ او که نه. ځینې غاښونه چې د رېښې درملنه یې شوې وي، کېدای شي چې رنګ بدل کړي. که چېرته تاسو داسې فکر کوئ چې د رنګ بدلون مو نه خوښېږي، نو د غاښونو ډاکتر تاسو ته لارښوونه کولای شي چې څه وکړئ.

## په یاد ولرئ

که تاسو کومه پوښتنه لرئ، نو تل یې د خپل غاښونو له ډاکتر څخه مطرح کړئ. هغوی کولای شي چې له درملنې څخه مخکې ستاسو د لګښت اټکل هم وکړي او په هغو مواردو کې چې د درملنې لګښت له NOK 5,000 څخه لوړ وي، نویو اټکلیز مقدار باید درته وویل شي.